# The Depiction of Nature in the Poetry of Ghani Khan

# د غني خان په شاعرۍ کې د طبیعت انځور

ډاکټر نور الحبیب نثار*

**Abstract:**
After Khushal Khan Khattak, Ghani Khan is one of the most prominent Pashto poets who presents nature from multiple aesthetic and philosophical perspectives. His familiarity with Western literature has contributed to shaping nature in his poetry as an objective reality rather than merely a symbolic or decorative element. However, it is important to note that the depiction of nature has deep roots in Eastern literary traditions, particularly in Pashto folklore, which reflects a close relationship between human life and the natural world. In modern Pashto poetry, the representation and interpretation of nature have become a significant literary trend.

In Ghani Khan's poetry, natural elements such as birds, insects, animals, mountains, and celestial bodies are presented as independent entities rather than symbols of human emotional states. His imagery is not merely decorative; rather, it reflects lived experience and philosophical reflection. Through sensory richness and aesthetic depth, Ghani Khan transforms nature into a living, dynamic presence. Consequently, his poetry offers a new direction in Pashto literary aesthetics, enabling readers and poets alike to experience nature as a source of creativity, knowledge, and emotional enrichment.

**Keywords**: Nature, Beauty, Imagination, Creativity, Symbolism, Sensory Perception, Modern Literature, Invironment, Pashto Poetry.

طبیعت د بشري ژوند بنسټي برخه او د ادب په تاریخ کې د تخلیقي بیان یوه مهمه موضوع ده. د پښتو په کلاسیک او شفاهي ادب کې د طبیعت انعکاس او انځورونه له قدیمه د ښکلا، احساس او معنایي تجربو یوه مهمه منبع ده.

* Assoc. Prof. Academic Member, International Center for Pashto Studies, Afghanistan Sciences Academy, Kabul- Afghanistan.

دهخدا په خپله لغتنامه کې طبیعت د سرشت، فطرت او جبلت په معنا راپېژندلی، چې د انسان د داخلي جوړښت او مادي نړۍ رابطه څرګندوي. دغه راز، د عربي او فارسي ادب په رڼا کې د طبیعت انځور د وخت له تېرېدا سره له تشبیهي او استعاري بڼې څخه تدریجاً موضوعي او واقعي بڼې ته خوځېدلی دی. په پښتو معاصر ادب کې هم د طبیعت درک او پوهاوي نوی اړخ پیدا کړی چې تر ټولو جوت مثال یې د غني خان شاعري ده.

**شننه او ارزونه:**

دهخدا طبیعت د سرشت، خلقت، فطرت، طینت، خمیر، جبلت، نهاد، اوبه او خاورې، منش، ګوهر او غریزې په معنا ثبت کړی او هغه څه یې ګڼلی چې د انسان ختې څنې رغېدلې ده (۱). عرب لیکوال فاروق احمد المیهي لیکي: انسان له طبیعت سره یوځای روان دی. پخوانیو طبیعت جزئي یاد کړی. د دوی شاعرۍ کې ځای پر ځای د طبیعت تابلوګانې وینو چې د تشبیه ګانو او استعارو په مټ یې انځورلې دي (۲). دی وړاندې لیکي چې: عربي ادب چې له فارسي ادب سره بلد شو نو د پخوا په پرتله په کې د طبیعت ستاینه ډېره شوه او څه نا څه موضوعي بڼه یې پیدا کړه. مګر بڼه یې کاملا هغه مهال موضوعي شوه چې له مغربي ادب سره یې معرفت وشو (۳).

په پښتو ادب، په تېره بیا شاعرۍ کې هم خبره همدغسې ده. خو هېره دې نه کړو چې په شرقي ادب کې د طبیعت ستاینه په غربي ادب کې د طبیعت تر ستاینې لرغونې ده. کلیله دمنه یې جوته بېلګه ده او پښتو شفاهي ادب خو د طبیعت د ښکلاګانو یوه رڼه هنداره ده؛ په لنډیو کې لولو:

پسرلی بیا په وطن راغی

له وچو دښتو د لونګو بوی راځینه.

زموږ شفاهي ادب خو له طبیعت سره په پیوستون کې له تمدن سره حتی د مخالفت خبره هم کوي:

سپینې کوټې یې کنډوالې کړې

زما یادېږي د کېږدیو شمالونه.

په شفاهي ادب کې له طبیعت سره د پیوستون احساس څکه ډېر کولی شو

چې د دې ادب پنځوونکیو یوازې خپلې جذبې او مشاهدې بیان کړې دي- دوی معمولا نالوستي کسان وو؛ له عرفاني مفکورو او افلاتونیزم سره یې پېژندګلوي نه وه؛ په لنډیو کې اورو:

ګل د ګلاب، بوی د سپنځلې
سیورې د ولې، خوب د پېغلې په لاسونه

خو زموږ په پخواني ادب کې که ((ګل)) یادېږي نو معمولا له معشوق سره د شباهت له کبله یادېږي. دغه راز، که پخوا کله کوم ژوی یاد شوی، نو مراد یې ځنې معمولا د ژوي توصیف نه دی. فقط د انسان د څه حالت او کیفیت د بیان له پاره ځنې استفاده شوې ده؛ رحمان بابا فرمایي:

څوک د آس دپاسه سور وي، توغ د وړاندې
څوک ږیرکلي ګرځاوه شي په خره سور

دلته د شاعر مقصد په حقیقت کې له ښه او بد بنیادم سره د ټولنې د غبرګون ښودنه ده- نه د آس او خره د حالت او کیفیت بیان.

په شلمه پېړۍ کې چې د پښتو نوې شاعرۍ پیل شوې، له طبیعت سره پیوستون په کې ژور شوی. اوس که د غني خان په شاعرۍ کې مارغان، خزندې یا آسونه یادېږي نو پخپله د طبیعت همدغه ژوي راپېژني- نه د انسان کوم حالت او کیفیت.

غني خان انځورونه یوازې د انځورونو له پاره نه پنځوي. دی د انځوورنو په مټ مطلوب حالتونه او کیفیتونه بیانوي او د طبیعت او ژوند بېلابېل اړخونه او بېلابېلې شېبې راښیي. دی چې ونې، بوټي، غاړې غرونه، ستوري او سپوږمۍ، مارغان او خزندې ستایي، دا هر څه له ژوند سره د ده عشق ښیي. د غني خان شعري انځورونه د ده د حسي تجربو حاصل دي، ځکه خو یې په شعرونو کې طبیعت تر ټولو ژوندي صفتونه لري. د طبیعت کوم حسي او مادي بیان چې ده کړی، جوت ښکاري چې طبیعت ته یې له هرې ډډې هنداره اېښې ده او ننداروړلی یې دی. رنګ، نور، سیند، سرور، آسمان، مځکه، سپوږمۍ، انسان، ځناور، ابشار، وربځ، برېښنا، باد، باران، لولکه، ګل، ازغی، وخت، موسم، حسن، عشق، مینه، خیام او نور واړه د غني خان د شاعرۍ موټیفونه دي او نړه طبیعي ماهیت لري- د ده موټیفونه د طبیعت د ښکلا او ضرورت حکایت کوي.

د طبیعت د پخوانیو انځورونو مطلق اکثریت له سترګو او یو څه یې له پزې سره سره تعلق لري. ډېرو لږو شاعرانو غوږونو ته مخاطب انځورونه کښلي دي. مګر غني خان د خپلو شعري انځورونو پنځولو کې له ګردو حواسو کار اخیستی. په تېره بیا ، د غوږونو حاسه یې انځورونو کاږلو کې توفان کوي. ده چې طبیعت کې د شته بېلابېلو غږونو، مثلاً: د مرغانو یا ځینې کیفیتونو کوم آوازونه او آهنګونه انځورلي، دا د ده شاعرۍ کې د طبیعت د ژوندي پاتې کېدا یو لوی عامل دی. د غني له پاره د ژوند د رنګ فقط څو آوازونه دي چې ده ته د سرور، ژوند او نور معنا ورکوي. دلته د ده "ساز" نومی نظم لولو:

شونډو له خوند، او سترګو له رنګ
پوزې له بوی، د نرګس د لونګ
زړه له امیداو، مستي او ارمان
غوږ له سرود او، شڼار او شرنګ
ما له سرور او ژوندون او نور
دا څو آوازه د ژوند د رنګ
ټق ټق د اور، ټپ ټپ د باران
اخ اخ د وصال، اف اف د ارمان
وۍ وۍ د جنون، وخ وخ د صنم
نا نا، او او، هر وخت د صنم
قټ قټ د خندا، پړق پړق د مستۍ
شرنګ شرنګ د پاتزېب، چڼ چڼ د لښتۍ
شړ شړ د اوبو، شغ شغ د نسیم
بس بس د دلبر، بړ بړ د غلیم
هېڼ هېڼ د هنډر، شنګ شنګ د ګولۍ
قړ قړ د چیلم، پړ پړ د لولۍ
دم دم د دوېړۍ، ټنګ ټنګ د رباب
غړ غړ د پیالۍ، سخ سخ د کباب
چپ چپ د کوکۍ، پس پس د دلبر
چړ چق د تارو، ګو ګو د کمتر

بس بس د آشنا، بد بد يې روان
اېش اېش د قلم، هاڼ هاڼ د بيان.
(لټون، ۴۸ او ۴۸۷ مخ)

د غني خان په شاعرۍ کې د خيال اصلي انځور سمبول، تشخص، پيراډاکس او ... دی چې طبيعت يې يو جزء دی. غني خان له ريالستي سره سره يو عارف شاعر دی- مګر رومانټيک عارف شاعر. د ده په شاعرۍ کې تشبيهي يا استعاري وصفونه، چې هسې په هسې دې خبره اوږده کړي، کم پيدا کېږي. ځکه خو يې د شعر په عمومي ترکيب کې د طبيعت يا ژوندانه د ښېبو انځورونه داسې سره ګډ شوي او اخښل شوي چې لوستونکی يې انفرادي وجود اسانه نه شي پيدا کولی.

د غني خان طبيعت ګرايي د پخوانيو شاعرانو د طبيعت ګرايۍ ادامه نه ده. د ده انداز نوی او بدل دی. زموږ پخوانيو شاعرانو د سپين مخ، تورو زلفو، نرۍ ملا او دنګې ونې ښکلا ته پام و، مګر د اوږو ښايست ته يې نه و پام، خو غني موږ ته د ښکلا نوي ليدلوري راوښودل. وايي چې د غره ښکلا ته د اروپايانو پام پخوا نه و. ژان ژاک روسو يې مخه ورواړوله. او که نن سبا د پښتنو شاعرانو څه پام د طبيعت ښکلا ته وراوښتی، تر خوشحال خان خټک راوروسته په کې لوی نقش د غني خان د شاعرۍ دی.

وړاندې مو وويل چې غني خان موږ ته د طبيعت د ښکلا نوي اړخونه راوښودل؛ مثلاً: دی پر ګلزار سربېره، چېرته لرې بيابان کې تک تنها ولاړ ګلاب يا ريدی ستايي؛ ډېر ګلونه لرې ياران يادوي؛ د ونو په څوکو کې د سپوږمۍ موسکا ويني؛ د ژمي په تکه توره شپه کې د خبرو کس غواړي، په ټکنده غرمه کې د لېونيو د ګرځېدا او په لړې، تروږمۍ کې د يار د سترګو د لېدا خبره کوي، وايي:

يوه ورځې يو صحرا کې په ښکار وتی وم روان
يو ګلاب مې ولاړ وليد، پړقېده ښېښته خندان
زه خفه يې خوا له لاړم، ما وې آه زما په شان
ته هم ګل يې بد نصيبه ورک د زلفو د جانان...
هغه غلی شان مسکی شو، وې خان مه کوه خفګان
زه به دا صحرا ورنه کړم د ايران په ګلستان
دلته زه يو او يکتا يم، هلته زر زما په شان

چار چاپېره سپېرې خاورې، زه يوازې يم روښان....

(لټون، ص ۶۰۹)

چې ځواني وي او مستي وي، او جانان وي او ډک جام
ډېر ګلونه، لږ ياران، او غمګين غونډې ماښام
عشق څه اور وي او څه نور وي، زړه لمبې لکه تنور وي
په دې ژوند به زه ورځار کړم جنتونه ستا تمام....

(لټون، ص ۲۲۶)

ټکنه غرمه د لېونو د ګرځېدو دی وخت
لړه، تروږمۍ د يار د سترګو د لېدو دی وخت
زېړ مازيګری د ژوند غمګينه شان نشه لري
توره شپه د ژمي د اورولو اورېدو دی وخت
هغه ده سپوږمۍ د ونو څوکو کې مسکۍ شوله
پاڅېږه لاليه اوس د باغ د ګرځېدو دی وخت....

(لټون، ص ۴۳۸)

غني خان د طبيعت د ښکلا ځينې عناصر، مثلاً: سپوږمۍ، سهار، غرمه، د ژمي ماښام، د ژمي يخه شپه او ځينې نور ډېر يادوي، خو پخوانيو شاعرانو نه دي ياد کړي؛ د هغوی تصور له يخ څه د وېرې و، ويل به يې:

اخ له يخه مرمه زه :: واخ څوک نه لرمه زه.

غني خان په خپلې شاعرۍ کې له بېلابېلو حيواناتو، خزندو او مارغانو سره د زړه خواله کوي او د دوی د تشخص ګڼ انځورنه يې کاږلي دي؛ دی ليکي:

"د حيدرآباد سند په حبل کې زما د ټوټې ټوټې متقبل نه علاوه ډېر نور څه هم وو. د چکۍ د دروازې په خوا کې د مېږو جالې وې. کله نه کله به زمونږ د احاطې په کيکر کې کمترې کېناستې. کله به مو نيمه شپه کې د تارو چړچق واورېد. کله به تور کارغه لکه د يو جمهوري وزير اعظم د شور او چل نه ډک په دېوال کېناست. د بمبې خوا له به ماښام کې چينډخه راغله. د دېوال دپاسه به د اوښ برېږ راغی. او په دغه ورځو کې زه ډېر وړی ترۍ او يوازې وم. نو ما به دې ټولو سره خبرې کولې. مېږو ته به مې خپل د تېلو پوخ ساګ غورځوه او کمترو ته به مې

خپله د باجرې ډوډۍ چوري کوله. دا روان شعرونه ما د هغوی په مجلس کې لیکلي دي. که زه د هغوی په طبیعت نه یم پوی شوی نو معافي غواړم. زه د انسان هډوکي لرم او د چینډخ په ځرمن نه شم ننوتی." (۴)

د غني خان د پاسنۍ وینا وروستۍ فقره د ده نفسیاتي چاپېریال ډېر ښه تشریح کوي. د ده نفسیاتي چاپېریال دا وخت د یوه زنداني انسان چاپېریال دی. ده چې د کارغانو مارغانو کوم انځورونه کاږلي، زښت زیات په کې بریالی دی. مګر دا چې د زنداني کېدا له کبله بېوسه دی، نو وایي چې "د انسان هډوکي لري او د چینډخ ځرمنې ته نه شي ننوتی." که نه نو طبیعت یې په خپلې شاعرۍ کې هومره لوړ انځورلی چې پښتو شاعرۍ کې یې دا وخت ساری نه لرو.

غني خان چې خپلې شاعرۍ کې د چرګ، مچ، مچۍ، ماشي، مېږي، مږې، چینډخ، چینجي، کارغه، کوترې، آس، اوښ، تارو، تورانۍ، توتي، بورا، ملاچرګک او نورو کوم انځورونه کاږلي، په هغوی کې یې د هر یوه د کردار نتیجه هم راښودلې ده چې کافي پند او نصیحت دی په کې. دی د طبیعت توصیف کې ډېر دقیق دی. له ساینسي معرفته هم استفاده کوي.

پخوانیو چې د کوم طبیعي شي ذکر کړی، یا یې یوازې له نېکۍ سره کړی او یا یوازې له بدۍ سره. مګر غني د شیانو ښه او بد دواړه یادوي. مثلاً: پخوانیو مېږی یوازې د همت د علامت په توګه یاد کړی. هغوی پر مېږي تبصره نه کوي، د هغوی تبصره د انسان په باره کې ده. مګر غني خان یې له ټول کم و کیف سره ذکر کوي. دی غواړي په مېږي ته تشخص ورکړي:

اوږد کاروان ستا، ګرم روان وي
سم په قطار قطار لکه اوښان وي
په هله هله، په منډه منډه
نمر در له وسوه، لنډه بربنډه
لکه د سپي هسې خوله کې اوړل کړې
او د پلټنې په شان، په پرېټ تلل کړې
د مرهټې په شان، هم غل هم نر یې
په حکم کلک روان، د خپل افسر یې
د خپل نظام تابع، لکه انګرېز یې

په زړه مضبوط مړنی، لکه چنګېز يې
ملا لچکداره نری، لکه لښتۍ لرې
خوله د ګلډانګ هسې، ښپې پټ پتۍ لرې
وجود دې درې بنده، او شپږ دې ښپې دې
نری نروچکې دې، کړې وړې دې
او لاس دې يو نشته، دا عجيبه ده
څه بې توله غوندې دې، معامله ده....

(لټون، ۱۷۲ او ۱۷۴)

وايي چې د مېږي کمی راشي نو وزرې وکړي، خو غني خان د مېږي د وزرو او الوت خبره نه ده کړې. وجه يې ښايي دا وي چې غني د خپل زندانې او نفسياتي چاپېريال د اثر لاندې مېږي باندې نظم ليکلی. له دې امله چې دی زنداني دی، نو د مېږي د کمي او وځرو کولو خبره يې هېره کړې ده.

د غني يو بل کمال دا دی چې دی هغه ادبي سنت نه کاروي چې زموږ په شفاهي اوتحريري ادب کې شته. د ده ادبيات نوي او ماډرن دي. د ده ليدلوری دا دی چې له ادبي سنتو دې مخ واړوي لکه ښځې چې نه وي يا يې لوستي نه وي. دی له طبيعت سره بې واسطې تفاهم کوي. ځکه خو يې خبرې نوې دي او همدغه وجه ده چې زياتره يې منلو ته په ګرانه تيارېږي.

غني خان خامخا د چا يا څه شي د عيب خبره نه کوي. کوتره کې چې د خو ځای نشته نو غني هم ورته ګوته نه ده نيولې. مګر "کمتره" نومي شعر کې يې د کوترې د پيغام رسونې ذکر نه دی کړی. د دې وجه هم شايد دا وي چې دی زندان کې دی او زندان وايي همدې ته چې د زنداني او آزاد خپلو کې سره رابطه نه کېږي. بله وجه يې دا ده چې دی ادبي روايتونو او سنتونو ته اعتنا نه لري.

وايي چې په شرقي ادب کې د آس ښکلی انځور تر ټولو مخکې امرؤ القيس کاږلی؛ هغه د آس په باره کې وايي:

مکر مفر مقبل مدبر معا :: کجلمود صخر حطه السيل من عل. (۵)

ژباړه:

لکه ډبره چې د غره له سره سېلاب را په مخه کړې وي،
خرپ کوي؛ ترپ کوي؛ وړاندې ځي؛ وروسته ځي.

راځئ وګورو چې غني خان خپل آس څنګه ستايي؟! دی وايي:

ترپ يې د هوسۍ په شان، زړه يې د زمري و
رنګ د غمي په شان، خيال د ښاپېري و
سترګې د کورکوړې، غونډې غونډې، ښکلې ښکلې
تله يې د نرانو، طبيعت يې د بلبلې
تن يې د طاقت او د مستۍ او د نرانې ډک
روح يې د همته، او ځيګر يې د مړانې ډک
ښپو کې يې ګډا وه د ساقي د سپينو ښپو په شان
سترګو کې غمونه، اميدونه د هوسو په شان
زړه يې د پښتون و، نه په کنده، نه په غر ايسار
جوش يې د غازي و، نه په ځان او نه په سر ايسار
چپه خوله آشنا زما، لاړې چرته لاړې ته
چرته؟ د چا کور کې يې؟ د چا نه وړې غواړې ته
شته هغه دنيا کې ښه نوکر د دلاور په شان
شته هغه دنيا کې واښه شنه د اشنغر په شان
چپه خوله آشنا زما، چپه خوله وې ټول عمر
اوه! چې زلمی وی تل، اوه! چې ته وی ټول عمر.....

(لټون، ۱۷۷ مخ)

غني خان د شاعر په حيث لوستل غواړي، نه د خان او سياسي شخصيت په توګه. ځکه د ده دنيا د ستوريو او سپوږمۍ دنيا ده او د ستوريو او سپوږمۍ په دنيا کې دغه کرښې نشته چې انسان د مځکې او سيندونو پرمخ کاږلې دي. دی وايي:

"زه چې نن ستاسو مخکې راغلی يم نو صرف د يو شاعر په شکل. تاسو دا هېر کړئ چې دا يا د باچاخان زوی خبرې کوي يا د لويې اسمبلۍ ممبر. زه چې شعرونه ليکم نو نه زه د باچاخان زوی يم، نه د اسمبلۍ ممبر. زه اول خپل ځان او خپلوان او جهان هېر کړم او بيا د خولې خبرې په شعرونو کې خوند کوي. هغه دنيا ته ګوري او ما ته يې قصې کوي او زه يې ليکم. ځکه زه په خپلو شعرونو کې خپل نوم نه ليکم. پردي شي ته خپل ويل سپک کار دی. تاسو له به دا هله خوند درکړي چې تاسو هم ما هېر کړئ. د ستورو او سپوږمۍ په دنيا کې نه هندوستان شته، نه

پاکستان. نه هندو شته، نه مسلمان." (۶)

غني خان يوازې د چمنزارونو او ګلزارونو مداح نه دی. دی تش تور بيابان کې تک تنها ولاړ ريدی هم ستايي. د رنګ او نور لمبه، د ښکلا چوپه نغمه او د لامکان کرشمه يې ګڼي. دی دا نه وايي چې د ګل ځای يوازې د جانان زلفو کې وي. د ده په نزد تش تور ريګستان کې لا ښکلی ښکاري. او چې څوک حسنپرست او ګلپرست وي نو سارا ته هم پسې ورځي. په بله ژبه، دی په سپېره بيابان کې د تک تنها ولاړ ګل په درد هم پوهېږي. رښتيا ده چې ښکلا يوازې جمعيت کې نه ده، فرديت کې هم شته. خوشحال بابا وايي:

ارغوان، که بنفشه، که شقايق دي
زېبايي لري يوځای، جدا جدا هم

د غني خان د شاعرۍ له لوستلو سره له طبيعته د بنيادم د وېرې احساس کمېږي. ځکه چې هغه له کومو شيانو وېرېږي، مثلاً: ځنګل، ګړنګ، تندر، توفان، سيلۍ، مرګ، زمانه، .... دی يې ورته ښکلي کوي. په دې توګه له طبيعت سره د خلکو مينه زياتېږي او نهايت کې د خپل لوستونکي ښکلاييز احساس راپاروي او روزي. وګورئ! غني خان مرګی د خپل خواره ملګري په شان تعريفوي:

مرګی دې راشي، چې کله يې وس وي
ګل به مې لاس کې وي، او يا به آس وي
يا به ټوپک وي، يا به قلم وي
ډوب به خندا کې، د دنيا غم وي
چې څه مو بخت وي، دومره به بس وي
مرګی دې راشي، چې کله يې وس وي.
ولې آخر سرې سترې شي او دا ومني چې:
په جام کې ګوټ ګوټ، شراب کمېږي
سپرلی خلاصېږي، ګلاب کمېږي
رڼا د شمعې کې، د سحر نور راغی
کور د بلبلو ته، نوم د باتور راغی
ستا کې شرنګ هغه، د مابنام نشته دی

سرور په سترګو کې، د خيام نشته دی.

(لټون، ۳۳۹ مخ)

غني خان مرګ ته ځکه د ملګري په سترګه ګوري چې د ژوند تکميل يې ګڼي او د دغه سيند له پاره د يوې بلې غاړې خبره کوي:

نه منم، نه منم ياره مرګ انجام د هستۍ نه دی
خلاصېدل شراب په جام کې اختتام د مستۍ نه دی
چې ماښام د کومې شپې وي، نو د هغې سبا هم وي
چې رڼا وي تياره هم وي، چې تياره وي رڼا هم وي
که يو نه وي، بل هم نه وي، او که وي نو وي به دواړه
دې درياب له چرته شته دی لرې بله يوه غاړه.....

(لټون ۶۸۷ مخ)

د غني خان شاعري له طبيعت او طبيعي مظاهرو رغېدلې ده. ژبه يې د هشنغر د کليو او باڼډو ژبه ده. خيال يې د پښتنو پېغلو، ځوانانو، ماشومانو او بوډاګانو د محسوساتو هنداره ده. فکر يې د پښتنو د ژوند ژواک پر مسألو چورلي او د نړۍ له نورو قامونو سره د دوی د روابطو حکايتونه او روايتونه لري. عاطفه او جذبه يې د يوه ساهو انسان ده- د بشري همدردۍ او خواخوږۍ پر روحيه روزل شوې او موسيقي يې د پښتنانه روح او روان د وجداني او رومانتيکو غبرونو له اهتزازونو او ازانګو رغېدلې ده. سر او لی يې د پښتنو له رزمي او بزمي محسوساتو او کيفيتونو جوړ دی. ده موږ ته د طبيعت هغه لرې نژدې تياره ګوټونه روښانه کړي چې زموږ له چاپېريال سره ژور اړيکي لري. دی له طبيعت او طبيعي مظاهرو سره په رابطه کې خپلې تجربې بيانوي او له طبيعت سره د پيوستون جذبه يې په شاعرۍ کې موجونه وهي. د اروانښاد رياض تسنيم په وينا، «د دنيا د لويو شاعرانو په شان، د غني خان په شاعرۍ کې مقاميت او د خپلې خاورې سره نژدې تړون دی. دا مقاميت د هغه د فکر او شخصيت دواړو حصه ده. د غني خان نه وړاندې، دا خوبي مونږ ته صرف او صرف د خوشحال خټک په شاعرۍ او شخصيت کې مخې ته راځي. غني خان چې که فلسفيانه بيان هم کوي، خو د هغه په لفظياتو کې اشنغر، جيندی، لنډی، اباسين، پېښور، مابڼ، اېلم، سوات او شولګره موجونه وهي.» (۷)

## نتيجه

د دې څېړنې له مخې، غني خان هغه يو مخکښ معاصر شاعر دی چې طبيعت ته يې د يوه خپلواک او ژوندي حقيقت په سترګه کتلي دي. د ده په شاعرۍ کې طبيعت يوازې د انساني احساساتو او عواطفو د بيان وسيله نه ده- خپل مستقل وجود، ښکلا، فلسفه او معنا لري. د طبيعت عناصر، لکه: غرونه، سيندونه، مرغان، ګلونه، حيوانات، ستوري، سپوږمۍ او نورې طبيعي مظاهر د ده په شعر کې د ژونديو او مشخصو موجوداتو په توګه راڅرګند ېږي.

څېړنه را ښيي چې غني خان د پښتو کلاسيکو شاعرانو له دوديزو طبيعي انځورونو څخه وتلي او د طبيعت د ښکلا نوي اړخونه يې راسپړلي او انځورلي دي. دی د طبيعت له عناصرو سره مستقيمه رابطه لري او خپلې شخصي تجربې، مشاهدې او حسي ادراکات د شعر په ژبه بيانوي. ده چې د طبيعت کوم انځورونه کارولي، يوازې بصري نه دي- سمعي، لمسي او احساسي ابعاد هم لري، چې د ده د شاعرۍ هنري اغېز يې لا پسې پياوړی کړی.

دغه راز، د غني خان په شاعرۍ کې د طبيعت انځور فلسفي او عرفاني ليدلوري هم لري. دی د ژوند ، مرګ، حسن، عشق او هستۍ د رازونو د بيان لپاره له طبيعي مظاهرو څخه الهام اخلي او د طبيعت او انسان ترمنځ د ژورې معنوي رابطې انځور وړاندې کوي. د طبيعت د ښکلا، ازادۍ او ژوند پالنې دغه احساس د ده د شاعرۍ يو مهم اختصاصي عنصر دی.

لنډ ګنډ ويلی شو چې غني خان په پښتو شاعرۍ کې د طبيعت انځورونې دود ته نوی هنري او فکري افق ورکړی. د ده شاعري لوستونکی له طبيعت سره د مينې، درناوي او ژورې ښکلا پالنې لوري ته وربولي او د پښتو معاصر ادب په تاريخ کې د طبيعت د هنري او فلسفي انځورونې يوه ځانګړې او بې سارې بېلګه بلل کېږي.

# حوالې

(۱) دهخدا، علي اکبر. لغتنامه، دکتر محمد معین و دکتر سید جعفر شهیدي، مؤسسهٔ انتشارات، تهران، ۱۳۷۳، جلد ۹، ص ۱۳۵۴۸.

(۲) المیهي، فاروق احمد. «الطبیعت فی الشعر العربی المعاصر»، وېب پاڼه:
www.alimbaratur.com/index.php?optio

(۳) ایضاً.

(۴) غني خان، لټون. ترتیب او تدوین: محمد زبیر حسرت، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، ۲۰۰۸ کال، ۱۳۱ مخ.

(۵) د امرالقیس دیوان: https://www.aldiwan.net/quote35.html

(۶) لټون، ۱۷۷ مخ.

(۷) تسنیم، ریاض. «د غني خان نظم ګویي د فکري بغاوت او ادبي اجتهاد یوه ځانګړې حواله، جرس پښتو نظم نمبر»، دوهم چاپ، خپروونکی: ملک عنایت الله خان، کراچۍ، ۲۰۱۸م.